د آدم ټول اولادونه خطا کوي او تر ټولو غوره خطا کوونکي هغه دي چې توبه وباسي

له انس بن مالک - رضي الله عنه څخه - روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د آدم ټول اولادونه خطا (ګناه) کوي او تر ټولو غوره خطا کوونکي (ګناهګاران) توبه کوونکي دي ».

[حسن] [ابن ماجه روایت کړی دی - ترمذی روایت کړی دی - احمد روایت کړی دی - دارمي روایت کړی دی]

انسان له ګناه نه خالي نه دی، د هغې کمزورتیا له امله چې د فطرت له مخې ورسره پیدا شوی او خپل مالک ته د غاړې نه اېښودلو له امله د هغه څه په کولو چې امر یې ورته پرې کړی او د هغه په نه کولو چې ترې منع کړی یې دی، مګر الله پاک خپلو بندګانو ته د توبې دروازې پرانستلې او خبر یې ورکړی چې : تر ټولو غوره ګناهکاران توبه کوونکي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5344